

د خبري رسنيو د مرکز لارښود

د ولسي جرگې او ولايتي شوراگانو ټاکنې

١٣٨٤کال

افغانستان
د انتخاباتو د تنظيم د گډ دفتر دارالانشاء

# محتویات


**پېژندنه........................................................................................ ۳**
**د افغانستان نخشه................................................................................ ٤**
**لومړی برخه: د خبري رسنيو مرکز...................................................................... ٥**
دنده.................................................................................................. ٥
د کار وختونه........................................................................................ ٥
خدمتونه او اسانتیاوې.............................................................................. ٦
د خبري رسنيو د مرکز د استعمالوونکو سره مرسته.................................... ٦
**دويمه برخه: باورليک ورکول، امنيتي او د تخليې يا وتلو کړنلارې......................... ٧**
باورليک ورکول.................................................................................. ٧
امنيت.............................................................................................. ٧
د وتلو کړنلارې.................................................................................. ٨
**دريمه برخه: د ټاکنو پايلې.................................................................... ٨**
د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره
د يوې نه لېږدېدونکې رايې سيستم.......................................................... ٨
په افغانستان د يوې نه لېږدېدونکې رايې سيستم څنګه کار کوي؟........................ ٨
شمېرنه او د پايلو په اړه رپوټ ورکول.......................................................... ٩
د شمېرنې سيمه ييزې اسانتياوې او د شمېرنې مرکزونه.................................. ١١
د ټاکنو انټرنېټي وېب پاڼه..................................................................... ١٢
د خبري رسنيو په مرکز کې پايلو ته لاس رسی........................................... ١٢
د پايلو د بهير تصديقول.......................................................................... ١٣
**څلورمه برخه: د اړيکو ټينګولو په اړه مالومات.............................................. ١٤**

## پــــېـــــژنـــــدنـــــه

خوښ يم چې په افغانستان کې د ١٣٨٤کال د ولسي جرگې او ولايتي شوراگانو د ټاکنو لپاره تاسو ته د انتخاباتو د تنظيم گډ دفترد خبري رسنيو مرکز ته ښه راغلاست وايم. د خبري رسنيو مرکز به د ټاکنو د پايلو او د ټاکنو په اړه د مالوماتو د خپرولو عمده مرکز وي. د خبري رسنيو مرکز به همداراز د انتخاباتو د تنظيم گډ دفتر د مطبوعاتي کنفرانسونو او اعلانونو لپاره ځانگړی ځای هم وي.

د خبري رسنيو مرکز ددې لپاره جوړ شوی څو خبري رسنيواو نورو گټه اخېستونکو ته خدمتونو او اسانتياوې برابرې کړي چې د ټاکنو په اړه نه يوازې په ښه توگه خبر شي بلکې همداشان خبري رسنۍ په ځانگړې توگه يو ځای ولري چېرې چې دوی به د ټاکنو په اړه کار او رپوټونه ورکوي.

په دې لارښود کې د موجودو مالوماتو سربيره، د انتخاباتو د تنظيم د گډ دفتر د دارالانشاء د خبري رسنيو د اړيکو کارکوونکي به موجود وي څو له لېدونکو (وېزيټرانو) سره د مالوماتو او نورو لاس رسيو په غوښتنو کې مرسته وکړي. د مالوماتي او سمعي او بصري ټکنالوژۍ کارکوونکي به هلته حاضر وي څو تاسو سره مرسته وکړي.

دا ټاکنې د افغانستان لپاره تاريخي موقع ده او د خبري رسنيو مرکز به تاسو سره مرسته وکړي څو افغان ملت او نړۍ ته د ټاکنو په اړه مالومات ورکړئ.

بسم الله بسمل
د انتخاباتو د تنظيم د گډ دفتر رئيس

## د افغانستان نخشه

د A4 اندازه نخشه د PDF په بڼه کې – د لیز کېمرلي څخه د شنبې په ورځ (د وږي ۱۹مه) ترلاسه کړئ.

## لومړۍ برخه: د خبري رسنیو مرکز

دنده

د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د خبري رسنیو مرکز د خبري رسنیو لپاره یو ځانګړی شوی ځای دی او ددې توان به ولري چې تازه مالومات چمتو کړي او له خبري رسنیو سره د ۱۳۸٤کال د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په خپراوي کې مرسته وکړي. نوموړی مرکز همداشان نورو ښکېلو ډلو ته د مالوماتو په ورکولو کې رول لري.

هغه آسانتیاوې چې ژورنالېستان ورته لاس رسی درلودلای شي په لاندې ډول دي:

- په منظم ډول مطبوعاتي کنفرانسونه او یا د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر  لخوا اعلانونه
- په ځای کې د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر د خبري رسنیو د اړیکو ټیم چې مالومات ورکوي او مرسته کوي
- د ۳٤ ولایتي شوراګانو او د ژورنالېستانو د خپلو تجهیزاتو د استعمال لپاره د ۳۰ اضافي ځایونو له لارې  د ټاکنو وروستیو پایلو او مالوماتو ته لاس رسی
- په دریو لویو تلویزیوني پردو د ټاکنو د پایلو او د ټاکنو د ځانګړې برخې په اړه د فلم ننداره
- د ټاکنو د وېب پاڼې په ګډون، انټرنېټ ته لاس رسی
- د کارکولو سیمې او مېزونه
- د کمرو او ورسره اړوندو تجهیزاتو له پاره د تلویزیون شبکې ځانګړې لوړه برخه
- ګڼ موخېزې مرکې او د خپرولو/خبري رسنیو د کار کوټې

باورلیک لرونکي لېدونکو ته به ښه راغلاست وویل شي چې د مرکز له اسانتیاوو څخه په هر هغه وخت کې ګټه پورته کړي چې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د خبري رسنیو مرکز پرانېستی او په کار لګیا وي.

د خبري رسنیو په مرکز کې ژورنالېستان به وکولی شي چې د ټولو لېدونکو سره مرکې وکړي او له دوی څخه د څرګندونو غوښتنه وکړي که چېرې لېدونکي موافق وي.

د خبري رسنیو مرکز به نه د ناټاکنیزو اعلانونو او د خبري رسنیو د کنفرانسونو او نه هم د کتونکو او نورو میلمنو لخوا د کنفرانس جوړولو او د اعلانونو د خپرولو لپاره وکارول شي. په مرکز کې د خبري رسنیو سره د کتونکو له مرکو کولو او خبري رسنیو ته د مالوماتو له ورکولو څخه مخنیوی نه کیږي.

د کار ساعتونه

د خبري رسنیو د پرانېستو معیاري وختونه به د سهار له ۸:۰۰ بجو څخه تر شپې۱۰:۰۰ بجو پورې وي. د ټاکنو د ورځې په مهال، د خبري رسنیو مرکز به ۲٤ ساعته پرانېستی وي، خو د شپې له ۱۰:۰۰ بجو نه تر سهار ۸:۰۰ بجو پورې ډېر کم کارکوونکي به په دې مرکز کې کار کوي.

**خدمتونه او اسانتیاوې**

د خبري رسنیو د مرکز لېدونکو ته بلنه ورکول کیږي چې په دې مرکز کې د خدمتونو او اسانتیاوو څخه پوره ګټه پورته کړي. په دې خدمتونو او اسانتیاوو کې د عمومي استعمال لپاره د ټاکنو پایلو او انټرنېټ ته د شخصي کمپیوټرونو او د نورو کمپیوټري تجهیزاتو(د بېلګې په ډول، د ژورنالېستانو خپل لپ ټاپ کمپیوټرونو) لپاره د ځانګړو ځایونو له لارې لاس رسی شامل دی. د کنفرانس تالار د ننه د شخصي کمپیوټرونو لپاره د څوکیو او میزونو سربېره، د خبري رسنیو د کار دوه کوټې د تالار د باندې جوړې شوي. دغه کوټې په بشپړ ډول د کمپیوټرونو لپاره چمتو شوي.

پرېنټرونه او د فوټوکاپۍ ماشینونه د خبري رسنیو د استعمال لپاره شته. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې پر پرېنټرونو به معقول محدودیتونه وي.

د ډوډۍ خوړلو لپاره به ځای موجود وي؛ د ډوډۍ ډول ښایي د ورځې یا شپې د وخت له مخې بدلون ومومي. د ډوډۍ خوړلو دا ځای د اصلي تعمیر او د کار د سیمې څخه د باندې په جلا ځای کې موقعیت لري. دا باید په یاد وساتل شي چې ډوډۍ په وړیا ډول نه ورکول کېږي

د خبري رسنیو په مرکز یا د ټاکنو په ځای کې به هیڅ ډول الکولي څښاکونو ته اجازه ورنه کړل شي.

**د خبري رسنیو د مرکز استعمالوونکو سره مرسته**

د خبري رسنیو د اړیکو برخه جوړه شوې او د خبري رسنیو د اړیکو ملي او نړیوال کارکوونکي به موجود وي څو تاسو سره مرسته وکړي او ستاسو د غوښتنو سره سم مالومات درکړي.

د مالوماتي ټکنالوژۍ او سمعي او بصري مرستندویه کارکوونکي به همداراز موجود وي چې ستاسو سره په هغو ستونزو کې مرسته وکړي چې تاسو به ورسره مخ کېږی.

د ټاکنو په ورځ د خبري رسنیو په مرکز کې به د یوناما وياند او د ایساف او ائیتلافي ځواکونو د عامه مالوماتو ماموران به هم موجود وي.

**دویمه برخه: د باورلیک، امنیت او د تخلیې (تشوني) کړنلارې**

باورلیک
مرکز ته د ننوتلو لپاره به د خبري رسنیو د مرکز  کارتونو یا د خبري رسنیو د باورلیک پېژندپاڼې یا نښان ته اړتیا ده.
مهرباني وکړئ د باورلیک په اړه دمعلوماتو لپاره لاندې وېب پاڼه وګورئ.

www.jemb.org/acc_media.html

هغو کسانو ته چې د باورلیک غوښتونکي وي وړاندیز کېږي چې خپل د خبري رسنیو د مرکزونو پېژندپاڼې د ټاکنو د ورځې د مخه تر لاسه کړي.

**امنیت**

دې د قدر په سترګه کتل کېږي  چې د خبري رسنیو په مرکز کې به د لوړې کچې امنیتي تدابیر ونیول شي او ټول استعمالوونکي باید د امنیتي کړنلارو رعایت وکړي. په دې کې د بحث لپاره څه نشته او  د ننوتلو لپاره شرط دی.

د خبري رسنیو مرکز له وسلو څخه پاکه سیمه یا زون دی: د ټولو استعمالوونکو د امنیت په خاطر، د ځانګړو حالاتو نه پرته ،د مرکز دننه به د هیڅ ډول وسلو وړلو ته اجازه نه وي.

**لاندنیې امنیتي کړنلارې به پلې شي:**

- هیڅ ژورنالست یا میلمه ته به د خبري رسنیو مرکز ته د ننوتلو اجازه ورنکړل شي څو  قانوني باورلیک ورسره نه وي چې له رارسیدو څخه د مخه یې ترلاسه کړی وي.
- مهرباني وکړی د امنیتي کړنلارو لپاره لږ ترلږه ۳۰ دقیقې وخت ورکړي، په ځانګړې توګه کله چې مطبوعاتي کنفرانس په پیل کیدو وي.
- ستاسو د باورلیک د پېژندنې نښان به یوازې هغه وخت قانوني وبلل شي چې د پېژندنې یو بل کارت هم در سره وي چې ستاسو عکس ورباندې لګیدلی وي، د بېلګې په توګه، پاسپورټ ، د موټر چلولو لایسنس ، یا د مطبوعاتو کارټ. د امنیتي مسئوولینو له خوا د غوښتنې په صورت کې د پېژندنې د نورو پاڼو یا کارتونو ښودلو ته چمتو اوسئ.
- هیڅ ډول څوکه ور شی د ځان سره مه راوړئ، ( لکه د جیب چاقو یا بیاتي ( قیچې)) او خطرناکه غازونه یا مایع.

مرکز ته نږدې به د موټرونو لپاره یوه خوندي سیمه ځانګړې شي. د مرکز ترڅنګ به د سټوډیو څخه د باندې خپرونو موټرونو لپاره محدود ځای پرېښودل شي. د تلویزیون شبکو سره به د باندې خپرونو موټرونو د اړتیاوو په باب اړیکې ونیول شي.

**د وتلو (تخلیي) کړنلارې**

کله چې د خبري رسنیو د مرکز نه وتلو ته اړتیا پیدا شي، د مرکز کارکوونکي به لېدونکو ته د راټولېدو ځای او د وتلو د لارو په اړه لارښوونه وکړي. د خبري رسنیو د مرکز په بېلابېلو برخو کې به د وتلو (تخلیې) په صورت کې د راټولېدلو د ځای د ښودلو نخشې ولګول شي.

**دریمه برخه: د ټاکنو پایلې**

**د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د یوې نه لیږدېدونکې رایې سیسټم**

- په افغانستان کې د یوې نه لیږدېدونکې رایې سیسټم د یو ټاکنیز سیسټم په توګه د ۱۳۸۴ کال د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره غوره شوی دی.

- کاندیدان په انفرادي ډول نه د ګوند د یوه غړي په توګه په ټاکنو کې سیالي کوي. رایې د انفرادي کاندیدانو لپاره شمېرل کیږي نه د ګوند سره د تړاو له مخې.

- کاندیدان د ګڼو غړو په انتخاباتي حوزو کې په ټاکنو کې سیالي کوي. دا په دې معنا ده چې د یوه څخه زیات کسان له یوې انتخاباتي حوزې څخه استازیتوب کوي.

- هغه کاندیدان چې تر ټولو زیاتې رایې وګټي په هره انتخاباتي حوزه کې موجودې څوکۍ تر لاسه کوي.

- سر له دې چې د هرې انتخاباتي حوزې څخه به له یوه نه زیات انتخاب شوي استازي وي، خو په شرایطو برابر هر رایه ورکوونکی د هغه\هغې د خوښې کاندید لپاره په هره رای پاڼه کې یوازې یوه نښه ایښودلای شي.

**په افغانستان کې د یوې نه لیږدېدنکې رایې سیسټم څنګه کارول کیږي؟**

- یوه ولایت ته د بېلو شوو څوکیو د شمېر په پام کې نیولو څخه پرته، هر رایه ورکوونکی د خپلې خوښې کاندید ته یوازې یوه رایه اچوي. د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د پرېکړې سره سم، هرې انتخاباتي حوزې ته په ولسي جرګه او ولایتي شوراګانو کې له یوې څخه زیاتې څوکۍ بېلې شوې دي. د بېلګې په توګه، کابل چې د افغانستان تر ټولو ګڼ مېشتی ولایت دی په ولسي جرګه کې ۳۳ او په ولایتي شورا کې ۲۹ څوکۍ ورته ځانګړې شوې دي.

- هغه کاندیدان چې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې ډېرې رایې وګټي په هره شورا کې به موجودې څوکۍ تر لاسه کړي.

- همدارنګه په هر ولایت کې د انتخاب شوو ښځینه کاندیدانو لپاره یو شمېر څوکۍ ځانګړې شوې دي. د بېلګې په توګه، د کابل لپاره په ولسي جرګه او لایتي شورا کې د ښځینه کاندیدانو لپاره نهه نهه څوکۍ ځانګړې شوې دي.

- په ټولیز ډول، هغه کاندیدان چې تر ټولو زیاتې رایې ترلاسه کړي، څوکۍ ترلاسه کوي. خو که چېرې ښځینه کاندیداني لږ ترلږه هغه شمېر څوکۍ تر لاسه نه کړي چې د قانون له خوا ورته بېلې شوې دي، د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون سره سم به دغه څوکۍ هغو ښځینه کاندیدانو ته ورکړل شي چې تر ټولو ډېرې رایې یې تر لاسه کړې وي.

- د ښځينه کانديدانو لپاره لوړ حد نه دی ټاکل شوی چې په هره انتخاباتي حوزه کې به په کوم شمېر ښځينه کانديدانې انتخاب کړای شي.

## شمېرنه او د پايلو په هکله رپوټ ورکول

د شمېرنې بهير به د وږې په ۲۹ مه نېټه پيل او د تلې د دويمې اونی په نيمايي کې به د روژې د مياشتې له پيل څخه مخکې پای ته ورسيږي. د شمېرنې په ترڅ کې داسې نور مهم پړاونو په پام کې نيول شوي چې نه يوازې سمه او دقيقه شميرنه باوري کوي، بلکه همدارنګه د افرادو او ټولنو د رايو محرميت هم خوندي کوي. کتونکي او استازي به وکولای شي چې د رای پاڼو د زيرمه تون د ساتنې په ګډون د رايې ورکولو له ځای څخه بيا تر وروستيو پايلو پورې، د شمېرنې ټول بهير تعقيب کړي، وګوري، او ويې ارزوي. دا د ټول ټاکنيز بهير په مسؤليت او شفافيت کې زيات والی راولي.

## د شمېرنې مرکزونو ته د رای پاڼو لېږدونه

د رايې ورکولو په پای کې به د رايې ورکولو مديران به دا باورکړي چې توکي د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء د کړنلارو د لار ښودنو سره سم ټړل شوي او د شمېرنې د اړوند ولايتي مرکز ته تر ټينګې څارنې لاندې بدرګه کيږي. د کنړ او نورستان ولايتونو پرته د هر ولايت د شمېرنې مرکزونه د همغه ولايت په مرکز کې موقعيت لري: د عملياتو د اړتيا په پام کې نيولو سره به د دغو دوو ولايتونو رای پاڼې د جلال آباد په ښار کې وشمېرل شي.

## د توکو تر لاسه کول او زېرمه کول

د شمېرنې مرکزونو ته له رارسېدو سره سم ، د رايې ورکولو د ځايونو توکي به وکتل شي څو باوري کړای شي چې ټول توکي په ښه حالت کې رسېدلي دي، وروسته به د زېرمه تون او د توکو د تر لاسه کولو د ټيمونو له خوا په خوندي ډول زېرمه کړل شي. که چېرې مالومه شي چې د رای پاڼو صندوقونه ورک شوي دي نو په هغه صورت کې به د رايې ورکولو د اړوند ځای څخه تر لاسه شوي ټول صندوقونه د زيرمه تون د ځای په ځانګړي شوي ځای کې د پلټنې تر وخته قرنطين کړی شي.

## تطبيق

د رايې ورکولو د ځايونو د رای پاڼو صندوقونه به وړاندې له دې چې د شمېرنې ځای ته يووړل شي دسته بندي کړای شي. هره دسته به لږ تر لږه د دوو بېلا بېلو ولسواليو څخه له دوو څخه تر اتو پورې د رايې ورکولو د ځايونو رای پاڼې ولري. د دې لپاره چې د افرادو او ټولنو د رايې محرميت وساتل شي، په دستو کې به د رايې ورکولو د ځايونو رای پاڼې د شمېرنې پر مهال سره ګډې کړی شي.

بيا به د شمېرنې ځانګه په هره دسته کې په جلا ډول د رايې ورکولو د هر ځای لپاره رای پاڼې تطبيق کړي او د ولسي جرګې د رای پاڼو څخه به يې پيل کړي. د رايې ورکولو د محرميت د باوري کېدو په موخه به د رايې ورکولو د هر ځای رای پاڼې به پرانستل (وسپړل) او پرمخې وشمېرل شي او د ۵۰ رای پاڼو بنډلونه به جوړ کړای شي. د رايې ورکولو د هر ځای څخه تر لاسه شوې ټولې رای پاڼې به وشمېرل شي او د هغه شمېر رای پاڼو سره به پرتله کړای شي چې د رايې ورکولو د راپور په فورمه کې ثبت شوې دي. وروسته له دې چې د ولايتي شورا رای پاڼې تطبيق شي او د شمېر تر منځ کوم توپير نه وي موجود، يا دا چې توپير د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر له خوا د اټکل شوې کچې څخه زيات

نه وي نو رای پاڼې به د ګډولو لپاره چمتو کړای شي. که چېرې يې پاس ياد شوي شرايط نه وي پوره کړي په هغه صورت کې به د رايې ورکولو د اړوند ځای ټول صندوقونه د زيرمه تون په ځانګړي ځای کې د حساب د تصفيې تر وخته يوې خواته کېښودل شي. وروسته د رايې ورکولو د بل ځای لپاره د تطبيق پروسه تکراريږي او تر هغه دوام کوي تر څو د رايې ورکولو ټول ځايونه تطبيق کړای شي.

## ګډول

يو ځل چې په بستو کې د رايې ورکولو د ځايونو ټولې رای پاڼې تطبيق شي، بيا به د ګډولو بهير پيل شي. لومړی به د ولسي جرګې رای پاڼې سره ګډې او وشميرل شي. د يوه ولايت د يوې څخه د زياتو ولسواليو د ځايونو د رای پاڼو د صندوقونو څخه به په غير ارادي ډول د ۵۰ رای پاڼو بنډلونه را واخيستل او د مېز پر سر به د ګډولو لپاره کېښودل شي. وروسته به د رای پاڼو بنډلونه په غير ارادي ډول بېرته په صندوقونو کې کېښودل شي. څرنګه چې د رايې اچولو منشاء يا اصلي ځای نه شي مالومېدلای، نو دا به د رايو محرميت نور هم خوندي کړي. په دې معنا چې نه يوازې د افرادو رايه پټه ده بلکه د هغه ټولنې رايه پټه ده چې د رايې ورکولو په ځانګړي ځای، مرکز يا ولسوالۍ کې يې ورکړې ده.

## شمېرنه

کله چې په هره دسته کې رای پاڼې تطبيق او ګډې شي، بيا هره يوه بېله بېله شمېرل کېږي. رای پاڼې پرمخ کېښودل شي څو د لومړي ځل لپاره وليدل شي. په هره رای پاڼه کې د ډېر شمېر کانديدانو له امله به رای پاڼې لومړی پر کالمونو (ستونونو) بېلې شي. د بېلګې په توګه، ټولې رای پاڼې چې د چپ ستون کوم کانديد په کې په نښه شوی وي، لومړی يو ځای سره بېلېږي.

بيا په لومړي ستون کې د هر کانديد رای پاڼې بېلېږي او د هر کانديد لپاره اچول شوې رايې د دوو شمېرونکو له خوا دوه ځله شمېرل کېږي. بيا د شمېرنې د ډلې سوپروايزر د پايلو په پاڼه کې د هر کانديد پايلې (نتيجې) ثبتوي. دا بهير به د رای پاڼو د هر کالم لپاره تکرار شي. کله چې د ولسي جرګې ټولې رای پاڼې وشمېرل شي، بيا د ګډولو او شمېرلو عيني پروسه د ولايتي شوراګانو د رای پاڼو لپاره تکرارېږي.

د پايلو ثبتول (په ډاټا انټري کې)

د رايې ورکولو د ځای د راپور فورمې او د دستو د پايلو فورمې د شمېرنې په مرکز کې سکين (کمپيوټر کې کاپي) کېږي او د انټرنيټ له خوندي لارې په کابل کې د ثبت مرکز (ډاټا سنټر) ته لېږل کېږي، چېرې چې ټولې پايلې راټولېږي.

**د کوچيانو د رای پاڼو د شمېرنې په هکله اضافي مالومات**

په دستو کې د ولسي جرګې او ولايتي شورا رای پاڼې يو له بل پسې شمېرل کېږي. د کوچيانو د ولسي جرګې رای پاڼې، که له ۵۰۰ څخه کمې نه وي په هغه ولايت کې شمېرل کېږي چې په کې اچول شوي وي. که په يو ولايت کې د کوچيانو له ۵۰۰ څخه کمې رای پاڼې اچول شوي وي، نو په بل ولايت کې شمېرل کېږي. دا دې لپاره چې د افرادو او ټولنو د رايو محرميت خوندي وساتل شي.

د کوچيانو د رايې ورکولو د ځايونه رای پاڼې يوازې د کوچيانو د رايې ورکولو د نورو ځايونو د رای پاڼو سره دسته بندي کېږي.

## د شمېرنې سيمه ييز مرکزونه او آسانتياوې

| سيمه | د شمېرنې ولايتي مرکزونه |
|---|---|
| مرکزي | کابل |
| | کاپيسا |
| | لوګر |
| | پنجشير |
| | پروان |
| | وردک |
| | |
| مرکزي لوړې سيمې | باميان |
| | ډای کنډي |
| | |
| ختيځ | کنړ(*) |
| | لغمان |
| | ننګرهار |
| | نورستان(*) |
| | |
| شمال | بلخ |
| | فارياب |
| | جوزجان |
| | سمنګان |
| | سرپل |
| | |
| شمال ختيځ | بدخشان |
| | بغلان |
| | کندز |
| | تخار |
| | |
| سهيل | هلمند |
| | کندهار |
| | نيمروز |
| | ارزګان |

| | |
|---|---|
| | زابل |
| | |
| سهيل ختيځ | غزني |
| | خوست |
| | پکتيا |
| | پکتيکا |
| | |
| لويديځ | بادغيس |
| | فراه |
| | غور |
| | هرات |

* د امنيتي او لوژيستيکي دلايلو له مخې، د کنړ او نورستان ولايتونو راى پاڼې به د ننګرهار ولايت په جلال آباد کې وشمېرل شي.

**د ټاکنو د انټرنيټ ويب پاڼه**

د ١٣٨٤ کال د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د انټرنيټ رسمي وېب پاڼه www.jemb.org ده.

د مطبوعاتي اطلاعيو په ګډون د انټرنيټ په پاڼه کې به د ټاکنو پايلې (بله برخه وګورئ) او عمومي معلومات شامل وي.

**د خبري رسنيو په مرکز کې پايلو ته لاس رسی**

د خبري رسنيو په مرکز کې به د هغو کمپيوټرونو له لارې چې د عام استعمال لپاره برابر شوي او هم د ژورناليستانو د شخصي تجهيزاتو له لارې چې د خبري رسنيو د مرکز له انټرنيټ سره به وصل وي، د پايلو لاندې تلويزيوني صفحې د لاس رسي وړ وي.

**د خبري رسنيو په مرکز کې ښودل کېدونکې پايلې**

د خبري رسنيو په مرکز کې به د عامه کاروني لپاره موجودو کمپيوټرونو او د انټرنيټ د ځايي شبکې له لارې چې ژورنالاستان خپل وسايل ورسره نښلولی شي، د پايلو پردې (تلويزيوني صفحې) موجودې وي. د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر له ويب سايټ څخه د پايلو پاڼې ته له تلو وروسته لاندې پرده ښکاره کېږي:

په دې نخشه کې د ولايتونو د نومونو د کېکاږلو له لارې د اړوند ولايت پاڼو ته لاره تللې ده چې هلته د اړوند ولايت د شمېرنې پرمختګ ليدل کېداى شي ( لاندې د دغو پردو تشريح وګورئ).

د افغانستان د نخشې لاندې څلور اسماني رنګه بکسونه دي:
- د شمېرنې پرمختګ
- د ولایت له مخې د رایه ورکوونکو ګډون
- د جنس له مخې د رایه ورکوونکو ګډون
- نا سمې رای پاڼې

دا هر یو بیا د تحلیلي معلوماتو سویري لرونکو نخشو ته لار لري. د دې هر یو پر کېکارلو سره سویري لرونکې نخشې پرانیستل کېږي.

**ولایتي ارقام او پایلې**

که د افغانستان په نخشه کې یو ولایت کېکاږئ، نو لاندې پرده پرانیستل کېږي:

۳٤ پردې د څلور دېرشو ولایتونو لپاره موجودې دي. په دې پردو کې د دواړو ټاکنو موجودې څوکۍ (د ټولو څوکیو او ښځو د څوکیو په ګډون)، د ولایت مرکز، د راجستر شوو رایه ورکوونکو شمېر او د رایي ورکولو د مرکزونو او ځایونو شمېر ښودل شوی دی.

د ولایت له نخشې او ولایتي راقامو څخه لاندې دوه رنګه بکسونه دي: اسماني رنګه د اړوند ولایت د ولسي جرګې او ژېړ د اړوند ولایت د ولایتي شورا لپاره دي. په هر بکس کې لاندې پایلې ښودل شوې دي:

- د شمېرنې پرمختګ (د ولایت د شمېرنې فیصدي چې تر څنګ به یې یوه له دریو اصطلاح ګانو څخه: قسمي، مؤقتي یا د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر تصدیق کړې پایلې لیکل شوي وي)؛
- مخکښ کاندیدان؛
- مخکښې ښځینه کاندیداني؛
- د رایو له مخې پایلې؛
- په رای پاڼه کې د نومونو د ترتیب له مخې پایلې؛
- د ښځو او نارینه وو د ګډون فیصدي (د ښځو فیصدي او د نارینه وو فیصدي)؛
- د ولایت له مخې د رایه ورکوونکو ګډون؛
- د ناسمو رای پاڼو پایلې (د سمو رای پاڼو % او د ناسمو رای پاڼو فیصدي)؛

**مخکښ کاندیدان**

هرې ولایتي پاڼې څخه د مخکښو کاندیدانو پاڼې ته لار شته:

دا پاڼې د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره اسماني رنګ او د ولایتي شورا لپاره ژېړ رنګ لري. د مخکښو کاندیدانو شمېر په اړوند ولایت کې د موجودو څوکیو د نیمایي شمېر معادل دی. د انګریزي په پاڼه کې د کاندیدانو نومونه لومړی پر انګلیسي او بیا پر دري لیکل شوي دي. د کاندید شمېره د نوم ښي اړخ ته او بیا د ترلاسه کړیو رایو شمېر ښودل شوی دی.

**مخکښې ښځينه کانديداني**

دا پاڼه هم پورتنۍ پاڼې ته ورته ده خو يوازې ښځې کانديداني په کې ښودل کيږي.

په رای پاڼه کې د نومونو د ترتيب له مخې د پايلو او د رايې د ترتيب له مخې د پايلو پاڼې

د پايلو په دغو دوو پاڼو کې د رای پاڼو ټول کانديدان ښودل کيږي او د اسماني رنګ او ژير رنګ عيني سيستم په کې استعماليږي.

**د لمنې لوحه**

د هرې پاڼې په بيخ کې د لمنې لوحه ده چې لاندې معلومات لري: د کوچيانو د ټاکنو شاليد او د شميرنې پرمختګ، د نوم ليکنې شاليد، د رايې ورکولو په هکله معلومات، شميرنه، د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د ويب سايټ اړيکه، د خبري رسنيو مرکز، د ټاکنو عمومي کتنه او د ټاکنو عکسونه.

**د کوچيانو ټاکنې**

د کوچيانو د ټاکنو په پاڼه کې لاندې معلومات ځای شوي: د راجستر شوو رايه ورکوونکو شمير، د رايې ورکولو د مرکزونو شمير، د رايې ورکولو د ځايونو شمير، د ولسي جرګې موجودې څوکۍ، د ولسي جرګې د ښځو موجودې څوکۍ، مخکښ کانديدان، مخکښې ښځينه کانديدانې، د ښځو او نارينه وو د ګډون فيصدي او ناسمې رای پاڼې.

ټولې پورتنۍ پردې د ([www.jemb.org](http://www.jemb.org)) د پايلو په اصلي پاڼه کې  پر انګريزي، پښتو او دري کې پيدا کيدلای شي.

پورتنۍ ټولې تلويزيوني صفحې د ټاکنو د پايلو د لومړۍ پاڼې ([www.jemb.org](http://www.jemb.org)) څخه غوره کولی شی. نومورې صفحې په انګريزي، پښتو او دري ژبو کې تر لاسه کيدای شي.

که د کمپيوټر په سيستم يا انټرنيټ کې کومه ستونزه رامنځته شي نو پايلې به يوازې په انګريزی ژبه ننداري ته وړاندې شي او ليدونکو ته به يوازې د هغوی کاغذي کاپياني (hard copy) ورکړل شي.

**د پايلو د بهير تصديق**

د پايلو د تصديق لپاره درې پړاوه دي:

1. نېمګړې پایلې: د یوه ولایت د ولسي جرګې یا د ولایتي شورا د ټاکنو نیمګړې پایلې به په نوموړي ولایت کې د رارسیدو سره سمدستي وځړول شي.

2. لومړنۍ پایلې: هغه وخت به په یو ولایت کې ولګول شي چې د نوموړي ولایت د ولسي جرګې یا ولایتي شورا د ټاکنو پایلې بشپړې شي.

3. تصدیق شوې پایلې: وروسته له دې چې د ټاکنو د شکایتونو کمېسیون د ټاکنو په اړه ټول شکایتونه حل کړي، د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر به د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون په مشوره په یوه ولایت کې د ولسي جرګې یا ولایتي شورا د ټاکنو پایلې تصدیق کړي.

**ځلورمه برخه: د اړیکو ټینګولو مالومات**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د لاندې اړوند مسؤول کس سره اړیکې ټینګې کړئ:

| | | |
|---|---|---|
| **د خبري رسنیو د مرکز مدیر** | پال انډرسن | 070 247 259 |
| **د خبري رسنیو د مرکز مرستیال مدیر** | بیل چیلورز | 070 079 635 |
| **د خبري رسنیو د اړیکو مامور** | برانوین کرن | 070 164 494 |
| | علیم صدیقي | 079 069 632 |
| | سلطان احمد بهین | 070 298 992 |
| **د معلوماتی ټکنالوژی اداره** | روبرټ حرناندیز | 079 069 625 |
| **د امنیت مدیر** | جورج فرینګیاس | 079 045 043 |
| **باورلیک** | کارمین ګاریګا<br>ډریو هېسلوپ | 079 843 679 |